# د خوشحال ګرفتاري او یوسفزي

شیرزمان سیماب

**Abstract**

Khushal Khan Khattak is a dominant figure of Pashoon's history. His life has great influence in many auspicates on our history. A notable feature in his life was his imprisonment. During which the yousafzi Tribe did a lot for the survival of his family. This Research paper is written in this respect.

د خوشحال ګرفتاري د پښتون تاریخ عموماً او د پښتنو او بالخصوص د خټکو او مغلو د تاریخ خصوصاً یوه اهمه واقعه ده ـ ددې واقعې نه وړاندې هغه څهٔ حالات او واقعات وو چې دا پېښه ترې راپېښه شوه ـ مورخین او پوهان ورته په خپل خپل نظر ګوري او د مختلفو پېښوکړۍ د یو بل سره تړي او د دغه صورتحال جائزه اخلي، ولې ددې پېښې نه پس چې څهٔ وشو د هندوستان تاریخ چې د کوموستونزو او پېښو سره مخ شو هم ډېرې څرګندې دي ـ د خوشحال خلاف د اورنګ زېب پوره پوره کاروایی د هغه خپل سلطنت کمزورے کړو حکومت بې اشره شو، په میاشتو میاشتو د خوشحال خلاف د فوجي کاروایۍ د پاره حسن ابدال کښې مشته کېدل د هغه د زوال سره مخ کړو۔ [2] [1]

په دغه پېښه کښې څنو پوهانو د خټکو او مغلو شریک حریف یوسفزي ترخه حده ککړ کړي دي ـ چې په تاریخي اعتبار او د پېښې د مدعیانو له مخه د حقیقت سره سمون نهٔ خوري بلکې د یوسفزو هغه نېکې برباده کړې شوې ده چې د خوشحال کورنۍ له ئې د سختې په دغه وخت کښې پناه ورکړه او پښتنې تورسرې او ماشومان ئې د مغل د غضب نه بچ وساتل ـ

> حمزه خان، الله داد خان وغېره یوسفزي اکثر اکوزي بائیزي راغلهٔ د خان علین هکان زاهوزاد ئې سیکری کاټلنګ لره بوتلل ـ[3]

اولف کېرو لیکلي دي :-

"ایسا معلوم ہوتا ہے کہ عبدالرحیم یوسفزئیوں خاص طور پر ان کے سردار بھاکو خان کا طرف دار تھا . اس نے ایک فرمان حاصل کرلیا جسکی رو سے دریائے سندھ کے گھاٹ کی چونگی ختم کردی گئ . چونگی کی عام معافی کی اعلان اورنگ زیب کے تخت نشین ہونے کے تھوڑے ہی دن بعد کردیا گیا لیکن اس کا اطلاق سرحدی علاقہ پر نہیں ہوا تھا . جہاں مخصوص حالات درپیش تھے . اکبر کے عہد سے اٹک پر چونگی کی وصولی ملک اکوڑے اور اسکے وارثوں کا حق چلا آرہا تھا . نئے حکم کا خوشحال پر بہت بُرا اثر پڑا اور اسے بڑا غصہ آیا . کہا جاتا ہے کہ چونگی عام لوگوں کا بوجھ کم نے کے لیے معاف کی گئی تھی. لیکن اگر اس اقدام کو خالصتاً یوسفزئیوں کی رقابت او خاندانی دشمنی کے خلاف ریشہ دوانی پر محمول نہ کیا جائے تب بھی کم از کم یہ ضرور تسلیم کرنا پڑے گا کہ اس اقدام کی پشت پر ان عناصر کا ہاتھ ضرور تھا جو یہ سمجھتے تھے کہ خوشحال اور اس کا خٹک قبیلہ کافی عرصہ تک شاہی عنایات کا اجارہ دار بنا رہا ہے اور اس سے دوسرے قبیلہ کو نقصان پہنچائے. جو نسبتاً زیادہ خطرناک قبیلہ ہے. [4]

په دې لړ کښې سېد رسول رسا لیکي چې :

د تخت نشینۍ د جنګونو په دوران کښې د یوسفزو مشر بهاکو خان د شهزاده دارشکوه ملګرے وو. داراشکوه خوشحال هم خپل هم خیال کول غوښتل ـ خو خوشحال او نۀ منله او د بهاکو خان لښکر د استقبال د پاره د اباسین په غاړه جمع شوي وو. په هغه ئې حمله وکړه او هغه ئې تس نس کړو. دغه شان شهزاده داراشکوه د یوسفزو په علاقه کښې پناه اخستلو کښې کامیاب نۀ شو. د تخت نشینۍ په جنګونو کښې چې خوشحال د اورنګ زیب کوم خدمات حاصل کړې وي ددغې خدماتو په بنا اورنګ زېب چې د مغلو د تاج او تخت مالک شو او دهلې په تخت کښېناستو نو خوشحال خان ته ئې لکه د پلار، شاهجهان په شان د خټکو سرداري او د بادشاهي لارې حفاظت اوسپارلو. او یو ځل بیا خوشحال خان د یوسفزو په مقابله کښې د مغل بادشاه منظور نظر شو ـ[5]

وړاندې لیکي :

په دې زما نه کښې مهابت خان د کابل د صوبې ګورنر وو. او پېښور ددۀ د ګورنرۍ د لاندې وو.[6]

رسا صېب واړندې وائي چې :

خوشحال خان د مهابت خان منظور نظروو۔ خو په کال ١٦٦١ء کښې مهابت خان دکن ته بدل کړے شو او د هغه په ځائے سېد امير د کابل صوبه دار مقرر شو۔ په پېښور کښې د سېدامير ، نائب عبدالرحيم وو۔ ددې تبديلو سره د خوشحال خان د تقدير ستورے هم ګردش کښې راغے ـ داسې معلومېږي چې د سېد امير او عبدالرحيم ، د خټکو او د يوسفزو په جګړو کښې د داراشکوه پاليسي خوښه وه او خټکو په مقابله کښې د يوسفزو امداد ته اماده شول او د بهاکو خان مرسته ئې وکړه [7]

موصوف وړاندې ليکي :-

بهاکو خان چې کومه ورځ په دهلي کښې داراشکوه سره کتلي وو د هغې ورځې نه د دهلي په دربار کښې د خوشحال خان وقار کم شوے وو۔ او د مغلو په ذمه وارو افسرانو کښې دا خيال پيدا شوے وو چې خټکو ډېره موده د شاهي طاقت نه استفاده اوکړه او د شاهي طاقت په زور ئې د خپلو دښمنانو يوسفزو نه مزکه هم لاندې کړه او هغوي ئې ذليل هم کړل ـ او بله دا چې خټکو حقيقت کښې خپل دښمنان بادشاهي دښمنان ګرځولي دي او ناحق ئې مغل او يوسفزي خپلو کښې اچولي دي ـ او دوئي په قلار ناست دي مزې کوي ـ پکار ده چې مغل بادشاهان دا پاليسي بدله کړي او د هغه قبائيلو سره دوستانه تعلقات جوړ کړي کوم چې د خټکو نه زيات زوردار دي ـ او د مغلو تاج او تخت دپاره زيات خطرناک دي که د خټکو په ځائے دغه قبائل حکومت خپل کړي نو دا د حکومت دپاره زياته فايده منده خبره ده ـ داسې معلومېږي چې سېد امير او عبدالرحيم هم ددغه ټولي د افسرانو نه وو[8]

د رسا صېب په ذکر شوي بيان کښې دا خبره سمه نۀ ښکاري چې خټکو خپل دښمنان بادشاهي دښمنان ګرځولي وو ـ ځکه چې :-

بادشاه ووې چې دې تاسو د يوسفزو سره له کومه راسې غليمي ده ـ خان عليين مکان ووې چې د څلورو پېړو مو سره غليمي ده ـ بيا بادشاه ورته ووې په څۀ سبب مو سره غليمي ده ـ خان عليين مکان ووې چې د بادشاه د دولت خواهئ دپاره دوئي متمر دي کا زۀ ئې له متمر دئ منع کوم [9]

دلته دا خبره په خپل ځائے چې بهاکو خان د تخت نشينئ په رسه کشئ د داراشکوه ملګرتيا کړې وه ـ چې پروفېسر پرېشان خټک[10] او پروفېسر داکټر اقبال نسيم خټک[11] هم اشاره

کړې ده ـ او دا خبره هم واضحه ده چې د بهاکو خان او خوشحال شدید رقابت وو[12] ـ ولې د اولف کېرو او رسا صېب "Statements" چې یوه تاریخي پرېکړه کوي په رر داسې معلومېږي ،، اډانه کوي ـ چې د تاریخ پلټنې سره سمے نۀ خوري ـ بائد چې تاریخي څېړنه شوې وے ـ خدیجه بېګم فېرزوالدین چې په وړمبي ځل ئې په خوشحال بابا تحقیقي کار کړے دے او دغه نابغه شخصیت ئې دنیا ته وړاندې کړے دے ـ د خوشحال د ګرفتارۍ په اوان هم هغه نظر لرې کوم چې داخلې شهادت دے ـ

سال ١٠٧٤ھ (١٦٦٣ء ) میں ایک ذاتی رنجش کی بنا پر خوشحال کے چچا صاحبان بہادر خان اور فیروز خان اسکے مخالف ہوگئے قسمت کو یہی منظور تھا . پشاور کے نائب الحکومت سید عبدالرحیم کو صوبائی گورنر امیر خان کا اعتماد حاصل تھا اور عبدالرحیم اور خٹک سردار کے مابین شدید قسم کی مخالفت موجود تھی.[13]

غرض دا چې د خپلو ترونو مخالفت د خوشحال دپاره نقصان ده شو او دا خبره هسې هم عقل ته نزدې ده ـ په دې چې د هغوي ورسره د منصب او سردارۍ کشمکش کېدے شو ـ کامل صېب هم دغه وائي چې :-

سید امیر خوافی نے یہ مفسدانہ چال محض خوشحال خان خٹک اور اپنے نائب متعلقین پشاور مرزا عبدالرحیم کے درمیان ناراضگی کی بنا پر اور خوشحال خان کے چچوں بہادر خان اور فیروز خان کے ساتھ اپنی سازش کو کامیاب بنانے کے لیے چلی تھی.[14]

اوس ددغه قیاسونو د رد دپاره زمونږ د خوشحال د خپل داخلي دلیل نه وړاندې یو بل قوي شهادت د تاریخ مرصع دے چې د تاریخ مرصع مؤلف هم دغه صورتحال وړاندې کوي ـ

یو ناسید عبدالرحیم نومے بې نماز لولي بچه وو ـ د هغه خان علیین مکان سره صحبت ناچاق وو ـ امیر خان ئې په دا پله راووست چې دې تا د صوبه دارۍ نقش به هونبره کښېني نه نې څو چې خوشحال قېد نه کړے مدمغ سړے دے ـ د پېښور ځنې غوریه خېل قصباتي طبع هم په دا کار ورسره مصلحتي وو ـ بادشاه د راهداریو باج هم منع کړے وو ـ مطلب د امیر خان دا وو چې که یو لوئے سړے په قېد کړم چې نور پرې وویروم چې راهداري منع کړم او که نه په بل رنګ به منع نه شي او پښتانۀ به دا کار ونۀ مني ـ بادشاه لره روان شو ، خان علیین مکان هم ورسره روان شۀ ، ډېر کارونه ئې ابتر وو ـ تر اټک چې هور ته شۀ ، خان

علیین مکان ئې راجاریوست ـ ترونه ئې ورسره بوتلل بادشاه لره چې وراغے بادشاه ورته ووے چې راهداري دې منع کړے ده ـ ورته ئې التماس وکړو چې راهداري هسې نه منع کېږي څو د زبردستئ عمل ونۀ کړم ـ بادشاه ورته ووے چې تۀ ولې د زبردستئ عمل نۀ کوے ـ وئے وئیل په دا سبب چې د تا عمده زمیندار دي ـ بې د تا د حکمه په هغو زبردستي کولے نۀ شم ـ بادشاه ورته ووئیل چې ما حکم درے دے هر طور چې دې تاکار کېږي هسې کوه ـ په دا شان مبهم عرض ئې وکړو ځواب ئې بیا موند ـ ددۀ هم په ځان کښې سترګې پټې وې ترونو ئې هم پنځوس زره روپۍ د شمشېر خان ضامنئ قبولې کړې وے ـ ددۀ د قېد یرغ ئې سره کړے وو ـ خو چې پېښور لره راغے دې ئې وبالۀ ـ قېد ئې کړو[15]

اوس هغه دستاوېز ته زېر کېږو چې د خوشحال د خپل لاس لیک دے او خصوصي طور سره ددې پېښې یو منظوم روداد او مضبوط او قوي داخلي شهادت دے ـ ددغه ترکیب بند وړمبے شعر دادے ـ

څۀ د بدو خوب چې مې ولیدو سحر
سترګې مې رڼې شوې ناقرار شوم په بستر[16]

په دې ټول ترکیب بند کښې چرته هم دا خبره نۀ څرګندېږي چې ګني د خوشحال بابا په ګرفتارئ کښې د یوسفزو لاس وو یا د بهاکو خان سازش پکښې شامل حال وو او کۀ وو نو خوشحال بابا به دغه ذکر خامخا کړے وو ـ په دې چې نور واقعات ئې ټکي په ټکي بیانول نودا خبره به ئې ارومرو کړې وه ـ البته د یوسفزو ئې ډېر صفت او تعریف کړے دے چې د سختې په دغه مهال ئې د ختکو زنانو او ماشومانو له پناه ورکړه ( چې ذکر به ئې وشي ) خوشحال بابا په خپله دغه حالات راپېدا کېدل داسې بیانوي ـ

خدائے راباندې راوست دا همه واړه محنت
څو چارې سبب شوې درته وایم حکایت
یو چې زۀ مغرور ووم په راستئ په خدمت
بل د مغل طمع زما نه ورکړل عادت
بل مې ناشکرئ بل د وروڼو حماقت
بل چې فرزندانو مې خطا کړ مصلحت[17]

په دغه ترکیب بند کښې بل ځائے وائي :-

خدائے وکړې دا چارې په ما واړه وکړې زړۀ
څو چارې غلط شوم چې مې لوئے کړۀ احمق ترۀ
بل چې ددۀ لور مې امرا ته کړه وادۀ
بل چې مې په کورکښې څۀ کښې نښول سپين او سرۀ
بل مې چې يو کوټ محکم بنا نۀ کړه په غرۀ
بل چې مې پۀ توره په خدمت غرور کاوۀ
بل چې مې مغل په ورکړ مر کړ نه غلاوۀ
بل مې چې په وختع د نيوۀ ملک نۀ ولاړوۀ
بل مې چې قوت د يوسفزو ورکاوۀ
بل مې چې په اصل غوريه خېل پښتون ګاڼۀ[18]

لکه څنګ چې د تاريخ مرصع د بيانه نه څرګنده ده خوشحال هم خپل ترونه او غوريه خېل ياد کړي دي او د يوسفزو په حقله په هم دغه ترکيب بند کښې وائي :-

زۀ د يوسفزیٔ په ځان زهر ووم قاتل
بل مقصود مې نۀ وو په خدمت کښې د مغل
ډېر شاهان ځوانان مې يو تر بله ووژل
تېر ساعت ارمان دے پښېماني نشته حاصل
دا په خيال د چا وو يا په فکر جاروتل
خواست رضا د خدائے په هر شان چې شوے شول
شاباش په هغه شه چې د ننګ و کاپالل
راغلۀ يوسفزئ لکه پېښ شو کار مشکل
يو وو بائيزے[1] رانيزے[2] ورسره مل
لوئے هلک مې واړه تر درياب پورې وتل
لاړل تر ميکریٔ ورسره مل کورونه سل
نور خټک مې واړه په خپل ځائے ودرېدل[19]

داسې دا خوشحال بابا دا شعرونه چې بقول کامل صاحب[20] ددې واقعې پنځه کاله وروستو ليکلې شوي دي ـ هم پکښې د يوسفزو شکريه ادا کړې شوې ده ـ

ډېرو اولسونو غليمي راسره وکړه
سر ئې راته کوز کړو هله خلاص شو له تمامه

---

[1] حمزه خان بائيزے
[2] الله داد خان رانيزے

یو یوسفزے دے چې منت ئې په ما بار کړو
لا په اکوزیو د ننګ چار ده مسلمه
زهٔ چې د ررغهد،، په کال بندي د اورنګزیب شوم
کور او خېل خانه مې پکښې ډېره وه له دمه

اوس چې خوشحال بابا پنځه کاله پس هم د یوسفزو تشکر کوي نو سوال دا پيدا کيږي چې د خوشحال غوندې نابغه روزګار شخصيت او لوئے سردار او جنګيالے تر دغه هم د بهاکو خان يا نورو يوسفزو په رررېشه دوانی ،، نه وو خبر ؟ خو نهٔ ، حقائق هم دغه دي چې خوشحال بابا په خپله بيان کړي دي ـ وچ په وچه يوسفزي په دغه پېښه کښې ککړول بې ځايه دي ـ

## حوالې


[١] رسا،سېدرسول و ارمغان خوشحال، يونيورسټي بک ايجنسي، کال نهٔ لري، مخ ٥١

[٢] خټک، ڈاکټر اقبال نسيم، پشتون شناس، پشتو اکيڈمی پشاور يونيورسټی، ٢٠١١ء، ص ١٤٤

[٣] خټک و افضل خان، تاريخ مرصع، مرتب دوست محمد خان کامل، يونيورسټی بک ايجنسی پشاور، ٢٠٠٦ء، ص ٣٢٢

[٤] اولف کيرو، پټهان، ترجمہ سيد محبوب علی، پشتو اکيڈمی پشاور يونيورسټی، ٢٠٠٠ء، ص٣٢٢

[٥] ارمغان خوشحال، مخ ٢١

[٦] همدغه حواله، مخونه ٢١، ٢٢

[٧] همدغه حواله، مخ ٢٢

[٨] همدغه حواله، مخونه، ٢٢، ٢٣

[٩] تاريخ مرصع، مخ ٣٢٩

[١٠] پريشان خټک، پشتون کون، پشتو اکيڈمی پشاور يونيورسټی، اشاعت دوم، ٢٠٠٥ء، ص٣٨٥

[١١] پشتون شناس، ص ٨٠

[١٢] کاکاخېل، بهادر شاه ظفر، پښتانهٔ د تاريخ په رڼا کښې، يونيورسټي بک ايجنسي، ٢٠٠٩ء، اووم ځل، مخ ٦٠٠

[١٣] خديجه بیگم فیروز الدین، ڈاکٹر، خوشحال خان خٹک، ترجمہ ڈاکٹر اقبال نسیم خٹک، اکادمی ادبیات پاکستان اسلام آباد، ٢٠٠٤ء، ص ١٣٩

[١٤] کامل، دوست محمد خان، خوشحال خان خټک، شاهین بک پشاور، ٢٠٠٦ء و اشاعت دوم، ص ١٢٧

[١٥] تاریخ مرصع، مخ ٣٢٦

[١٦] خټک خوشحال خان، کلیات، مرتب دوست محمد خان کامل مومند، اشاعت سرحد پیښور، ١٩٥٢ء، مخ ٩٣٤

[١٧] همدغه حواله، مخ ٩٣٩

[١٨] همدغه حواله، مخ ٩٤٧

[١٩] همدغه حواله، مخ ٩٤٢

[٢٠] خوشحال خان خټک، مخ ١٣٦